# د وجودیت پیژندګلو او پس منظر

# Introduction and Background to Existentialism

Ihsan Ullah(Ihsan Yousafzai) *

**Abstract**

Existentialism, a globally acknowledged philosophical and literary movement, has its origin in the 19th century Europe. This movement assisted individual towards self discovery and perception. Who am I? Who created me? What was the purpose behind my creation? If I were to be born, why was I not consulted before my coming into being? This philosophy raises such and other questions. This research has shed ample light on the beginning, evolutionary phases, background and causes of the ground breaking philosophical and literary movement.

**Key words**: Existentialism, to exist, jean Paul Sartre, Kieregaard, Soran Aabye, Existentialist.

بني ادم چې د معاشرې د نورو افرادو سره په شریکه ژوند تېروي، په ټولنیزو چارو کښې ځان بوخت ساتي، نو دهٔ ته د خپل ذات او وجود احساس ډېر کم کېږي. خو کله چې دے د نورو انسانو نه بېل او ځان له شي نو په دغه یواځېوالي او تنهایۍ کښې دے نهٔ یواځې د ځان سره ګوښېږي بلکې د خپل ذات ادراک او لټون هم شروع کړي. زهٔ څوک یم؟ چا پېدا کړے یم؟ زهٔ چې چا پېدا کړے یم، هغهٔ ولې زما د سترګو نه پټ او پناه دے؟ زهٔ ئې څهٔ له پېدا کړے یم؟ چې زهٔ ئې پېدا کولم نو زما سره ئې صلاح او مشوره ولې نهٔ کوله؟ چې مرګ شته نو ژوند څهٔ معنیٰ لري؟ په دې ذي روح دنیا کښې بطورِ فرد زما حېثیت څهٔ دے؟ زما ذاتي فېصلې څهٔ حېثیت لري؟ زما مقدر څهٔ دے؟ د فطرت او زما ترمینځه څهٔ رشته ده؟ زما ذاتي ژوند، ذاتي ازادي، ذاتي فېصلې، ذاتي خوښه او ناخوښه، ذاتي ګناه او ثواب، ذاتي کرب او درد، ذاتي کردار او اخلاق، ذاتي مرګ او نجات څهٔ حېثیت او درجه لري؟ دا او داسې نورې پوښتنې چې د هر ذي شعور فرد د خپل وجود په حقله د یواځېوالي او تنهایۍ حالت

* Ph.D Scholar Pashto Academy UOP.

کښې په ذهن کښې پیدا کېږي.د پخوا نه تردې دمه چې څومره هم مختلف فکري تحریکونه زېږېدلي دي که د دغو ټولوتحریکونو په پرله پسې توګه جائزه واخستلې شي نو د وجود د اهمیت او ارزښت په حقله به په کښې ارو مرو مونږ ته ډېر څۀ په لاس راشي. په حقیقت کښې "وجود" او خاص طور سره "انساني وجود" چې یو متحیّر او پُراسرار څیز دے. دغه وجه ده چې د انساني پوهې او ادراک رسائي ورته ډېره په ګرانه کېږي. سائنس که دې لږ کښې څۀ نه څۀ کوشش کړے دے خو د یو مادي او ټوس څیز ګرځولو نه پرته ئې د انساني وجود اصل حقیقت ته رسائي نۀ ده شوې. دغه رنګ علمِ نفسیات هم دې ضمن کښې څۀ نه څۀ هڅې کړې دي او د انساني وجود ځینې پېچیده غوټې ئې راسپړدلې دي او تر څۀ حده ورته کامیابي هم حاصله شوې ده خو دغه هم په اصل کښې جزوي کامیابي ده. البته د قبله ایزې خاورې په جدید فلسفیانه تحریکونو کښې "وجودیت" یو هغه فلسفیانه طرزِ تحریک دے چې د دې تحریک د لارې د وجود په پېچلو او لاینحل مسئلو د یو نوي نقطه نظر په رڼا کښې د پوهېدلو کوشش شوے دے. د وجودیت په بنیادي افکارو او مباحثو د رڼا اچولو نه وړاندې پکار ده چې د دې لفظ لغوي معنیٰ ګانې هم په ډاګه کړے شي.

"وجودیت" د عربۍ ژبې د لفظ "وجود" نه ماخوذ دے. د اردو مشهور لغت "جهانګیر اردو لغت" کښې د وجود لغوي معنیٰ ګانې داسې ورکړې شوې دي.

"وجود پیش و۔ ومع۔ امذ۔ ع۔ موجودگی، ہستی، حیات، زندگی، حادث یا واقع، موجود، مخلوق ہونا، پایاجانا"[1]

د پښتومشهور لغت "دریاب" کښې د وجود لغوي معنیٰ ګانې داسې لیکلې شوې دي.

"وجود: (وُ. جُود) اسم. واحد. مذکر (۱) بدن. تن، حیات (۲) هستي (۳) موندلے کېدنه، جمع وجودونه (م. عربي)"[2]

ډاکټر جمیل اختر محبي په خپله پي ایچ ډي مقاله "فلسفۀ وجودیت اور جدید اردو افسانه" کښې د وجودیت په نورو ژبو کښې د مترادفاتو او لغوي مفهوم په حقله داسې لیکي:

"وجودیت عربی لفظ "وجود" سے مشتق ہے۔ فرانسیسی لفظ Existence لاطینی Existentia جرمنی Existenz سنسکرت "استو" اور فارسی لفظ "ہست" وجود کے مترادفات ہیں اور قریب قریب یکساں مفہوم میں مستعمل ہیں۔ وجود کے لغوی معنی جو لغات میں ملتے ہیں وہ اس طرح ہیں حصولِ مقصد یا مطلوب کا پانا مجازاً بدن، جسم، نقیض عدم ہستی، ذات، زندگی، وجودگی بود، تکوین، تدوین، پیدائش، حیات، تنفس، ظہور، نمائش، قیام وغیرہ"۳

قدیم فلسفیانو او مابعد الطبیعاتي مفکرینو وجود د دغو معنو منبع ګڼلې ده. ولې وجودي فلسفیانو د دې لفظ یوې نوې معنې او باریکې نکتې ته اشاره کړې ده. د وجودیت پسندو بنیادي سوال دا دے چې دې دنیا کښې به مونږ خپل ژوند څنګه تېروو. دې لړ کښې وجودي مفکرین دوه صورتونه په ګوته کوي.

د وجودي فلسفیانو په خیال یو صورت د To Exist دے او دویم صورت محض د To live یعنې اوسېدلو دے. د وجودیانو په نزد To Exist او To Live دواړه بېل بېل صورتونه دي.وجودي فلسفیان په دې خبره زور راوړي چې مونږ ته د خپل ژبړېدو نه پس دا حق حاصل دے چې مونږ د خپل پوره پوره شعور، داخلي کېفیاتو او ذاتي جذباتو وغېره سره په ازادانه او خپلواکه توګه ژوند تېر کړو چې دې لړ کښې زمونږ په ژوند څوک هېڅ قسمه بندیز او قدغن وۀ نۀ لګوي. دا په صحیح معنو کښې ژوند دے چې دې ته هغوي To Exist وائي. دویم صورت دا دے چې مونږ دې دنیا کښې عام ژوند تېروو چې مونږ ورکښې د حالاتو، ماحول، اقدارو وغېره پابند یو او یو داسې ژوند کوو چې په هغې کښې زمونږ د ذاتي شعور، ذات پېژندنې، خپلې مرضۍ او درون بېنۍ څۀ خاص عمل دخل نۀ وي. دا په اصل کښې د "To Live" صورت دے. څومره پورې چې د یوناني فلسفیانو افلاطون او ارسطو وغېره خیالات او افکار دي. که په غور ئې مطالعه کړے شي نو په دغو افکارو کښې د یو فرد د "To Exist" د حالت په ځاے د To Live په حالت زور راوړے شوے دے. خاص طور سره افلاطون چې په خپل کتاب Republic کښې د کومو خیالاتو اظهار کړے دے. په هغې کښې د یو فرد د To Exist حالت بېخي نظر انداز کړے شوے دے او محض د اوسېدلو او ژوند

تېرولو To Live صورت په کښې رامخې ته شوے دے. دغه وجه ده چې عام طور سره وجوديت پسند د مابعدالطبيعاتي مفکرينو او بالخصوص د افلاطون د مثاليت پسندۍ يا ائيډيالزم مخالفت کوي.

په دې بابله ډاکټر جميل اختر محبي په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې بل ځاے داسې ليکي.

> "وجودی مفکروں کے یہاں یہ لفظ معنی کے ایک نئے لیکن باریک نکتے کی طرف اشارہ کرتا ہے۔ وجودیت کی فکر کی ایک اہم کڑی ان مباحث پر مبنی ہے کہ اس دنیا میں ہم اپنی زندگی کس طرح بسر کر رہے ہیں۔ وجودی مفکروں نے اس سلسلے میں دو صورتوں کی نشاندہی کی ہے۔ ایک صورت To Exist کی ہے اور دوسری صورت محض "رہنے" کی ہے۔ گویا To Exist اور To Live دو حالتیں ہیں۔ وجودیت پسند اس بات پر اصرار کرتے ہیں کہ ہم کو اپنی پیدائش کے بعد ہی یہ حق حاصل ہے کہ ہم اپنے تمام تر شعور، آگہی، داخلی کیفیات، ذاتی جذبات وغیرہ کے ساتھ آزادانہ طور پر زندگی بسر کریں۔ اس معاملے میں ہماری زندگی پر قدغن لگانے والا کوئی نہ ہو۔ یہی صحیح زندگی ہے جسے وہ To Exist کہتے ہیں۔ دوسری صورت یہ ہے کہ ہم اس دنیا میں ایک عمومی زندگی بسر کرتے رہیں۔ ہم حالات، ماحول، اقدار وغیرہ کے پابند ہو کر ایک ایسی زندگی گزاریں جس میں ہمارے اپنے اور ذاتی شعور اپنی آگہی، اپنا منشا، اپنی دروں بینی وغیرہ کا کوئی دخل نہ ہو۔ یہ صورت To Live کی ہے۔ افلاطون نے اپنی کتاب Republic میں جن خیالات کا اظہار کیا ہے یا جن امور پر زور دیا ہے۔ اس میں کسی فرد کے Exist کرنے کا سوال ہی پیدا نہیں ہوتا۔ بس رہنے یا گزر کرنے کا پہلو نکلتا ہے۔ یہی وجہ ہے کہ عام طور سے وجودیت پسند افلاطون کی مثالیت پسندی یا آئیڈیالزم کا رد کرتے ہیں۔" ۴

د وجوديت تعريفونه:

د وجوديت په مختلفو ژبو کښې د تعريفونو او مفاهيمو نه وړاندې دلته دا خبره د يادولو وړ ده چې "وجوديت" يو داسې ترلے او متعين فکر نۀ دے ولې چې د دې فلسفې سره دومره ګڼ شمېر تصورات غوټه دي چې دلته د دغو ټولو تصوراتو احاطه کول خو به ګران شي البته د وجوديت هغه بنيادي نکتې چې ټولو وجودي مفکرينو ئې د راسپړدلو کوشش کړے دے. په دغو کښې د To Exist نکته ترټولو

زياته زيرِ بحث راغلې ده. د وجوديت چې تر اوسه څومره تعريفونه شوي دي. په ټولو کښې دغه نکته زياته چېړلې شوې ده. د مثال په توګه دا تعريفونه وګورئ.

"Existentialism is a form of philosophical inquiry that explores the problem of human existence and centers on the lived experience of thinking, feeling, acting individual" 5

"Existentialism, A Philosophical movement which holds that there is no fixed human nature, that man is free to act as he will and that this is the source of his anguish" 6

د وجوديت تعريف ژان پال سارترے څۀ په دې ډول کوي:

"The existentialist Ideal beings with the Idea that humans should stop wasting time Puzzling over the curiosity of their own existence and begin instead by accepting it as a fact, the first and most necessary fact; "existence precedes essence". Existentialism is Philosophy for the straight forward, you and we are real people, operating in a real world, we are not figments of each other's imagination. I am the architect of my own self, my own character and destiny. It is no use whining about what I might have been, I am the things I have done and nothing more. We are all free, completely free. We can each to any damn thing we want, which is more than most of us dare to ima." 7

سي. اے قادر د وجوديت تعريف څۀ داسې کوي:

*"دور جدید کا فلسفہ وجودیت اس لحاظ سے یکتا و یگانہ ہے کہ اس نے اپنا موضوع صرف وجود کو بنایا اور وہ بھی وجود کو خالص وجودی انداز سے" 8*

ډاکټر انور سديد په خپل کتاب "*اردو ادب کی تحریکیں*" کښې د وجوديت پس منظر داسې په ډاګه کوي.

*"انیسویں صدی تجسّس اور اضطراب کی صدی تھی۔ اس صدی میں انسان زندگی، عقل اور معاشرے کی گتھیاں سلجھانے میں مصروف رہا۔ چناں چہ ۱۸۴۱ء میں جب شیلنگ (Shelling) نے ہیگل (Hegel) کے نظریات کو نشانہ تنقید بنایا تو اس کے سامعین میں اینگلز (Engels) بکونن (Bakunin) اور کیرکے گور (Kierkegaard) بھی شامل تھے۔ اگرچہ شیلنگ تجریدی صداقت اور مطلق صداقت میں ربط باہم*

*تلاش نہ کرسکا لیکن کیرکے گور کو سوچ کی ایک نئ سمت مل گئ اور اس نے انسانی شعور کا تجزیہ کرکے انسان کو اپنی ذات پر یقین کامل پیدا کرنے کی طرف راغب کردیا۔ چناں چہ کیرکے گور وہ پہلا مفکر ہے جس نے وجود کو جوہر پر فوقیت دی اور دعویٰ کیا کہ آدمی اس کے سوا کچھ نہیں جو وہ خود کو بناتا ہے۔ کیرکے گورکے نظریات میں یونانی حکماکے "میں ہوں" کی بازگشت موجود ہے تاہم اُس نے وجودیت کو فلسفیانہ اساس عطاکی اور معروضی عینیت کو مبہم قرار دے کر وجود کو نظامِ کائنات میں افضل ترین مقام دینے کی تحریک شروع کردی" 9*

وجودیت چې په اصل کښې د قبله ایزې خاورې یو جدید فلسفیانه طرزِ فکر دے نو ځکه لکه د نورو مشرقي ژبو پښتو کښې پرې تراوسه د نشت برابر کار شوے دے. ولې بیا هم د پښتو په ځینو کتابونو او مجلو کښې پرې لږ ډېر مباحث موجود دي چې د دغو کتابونو په مدد سره ئې دلته د پښتو تعریفونه هم وړاندې کولے شي.د افغانستان د خاورې لیکونکے محمد صدیق روهي په خپل کتاب "ادبي څېړنې" کښې د وجودیت په حقله داسې لیکي:

"اګزیستنسیالزم یا د وجود فلسفه د معاصر وخت یو غېر عقلي (Irrational tic) تمایل دے چې د روشن فکرانو د ځینو قشرونو د تفکر ډول منعکسوي. که څۀ هم اګزیستینسیالزم له لومړۍ نړیوالې جګړې نه وروسته وده وۀ کړه خو ددې فلسفې رېښې په نولسمه پېړۍ کښې هم لیدل کېږي. (سورن کیر کیګار (Soren Kierkegaard) ډنمارکي فیلسوف (۱۸۱۳.۵۵) د لومړي ځل له پاره د وجود فلسفه رامنځ ته کړه او له همدې امله، دےد اګزیستینسیالزم پلار یا مبتکر (Originator) ګڼل کېږي." 10

پورته چې څومره تعریفونه وړاندې کړے شول.د دغو ټول نچوړ او خلاصه دا ده چې وجودیت یوه داسې رویه یا طرز فکر دے چې د نولسمې پېړۍ د مشین په غلامۍ کښې راګېر انسان ئې په وړمبي ځل د خپل ذات د لټون او ادراک د پاره وۀ هڅوه او د خپل ذات د اثبات شعور ئې ورته پېرزو کړو. نۀ یوائې دا چې د مشین د غلامۍ نه

ئې خلاص کړو بلکې د هر قسمه سماجي، مذهبي او اخلاقي نظامونو د بې ځایه بندېزونو او قدغنونو خلاف ئې په اواز پورته کولو مجبوره کړو. په وړومبي ځل ئې بنیادم د خپل ذات او وجود په اهمیت او ارزښت پوه کړو او د خپلې ذاتي خود مختارۍ احساس ئې ور کښې پېدا کړو. دا شان د هغه انفرادي ازادۍ د نعمت نه ئې برخه من کړو کومه چې ترې د سماجي، مذهبي او اخلاقي اقدارو خپلولو په نتیجه کښې تروړلې شوې وه.

## د وجودیت فلسفیانه پس منظر:

که څۀ هم وجودیت د قبله ایزې خاورې د جدید مفکرینو یوه نوې رویه او طرزِ فکر دے ولې سر چینه ئې په اصل کښې فلسفه ده. هستۍ او د هستیو په مبادیو (علت او معلول) غور او فکر کول چې د ابتدا نه د فلسفې موضوع ګرځېدلې ده. د وجودیت لۀ لارې هم د بني ادم د ذات او وجود لټون او ادراک کولے شي.دغه وجه ده چې د وجودیت د فلسفې سره ډېر کلک تړون او تعلق دے. ځکه په وجودیت د پوهېدلو د پاره به دلته دا ضروري وي چې د یو عصري فلسفیانه فکر په حېث د وجودیت په فلسفیانه پس منظر هم رڼا واچولے شي.

د جدیدې او عصري فلسفې په خاصه توګه په وجودیت د پوهېدلو د پاره به دا ضروري وي چې په مختلفو دورونو کښې په فلسفه کښې څومره بدلونونه راغلي دي او څومره نوي نوي رجحانات په کښې رامخې ته شوي دي، دغه ټول په نظر کښې وۀ ساتلے شي. داسې خو به د فلسفې د تاریخ د هر دور دغه مختلف النوع خیالات او فکري رجحانات احاطه کول دلته ګران شي البته د خپلې مطالعې د اسانتیا په غرض دلته د فلسفې د تاریخ څلور ادوار د بحث لاندې راوستلے شي.زړه فلسفه،د مینځنۍ زمانې فلسفه،نوې فلسفه او اوسنۍ یا عصري فلسفه

### زړه فلسفه:

د زرېي يا پخوانۍ فلسفي دور د شپږمې پېړۍ قبل مسيح نه واخله د دريمې پېړۍ عيسوي پورې ټاکلے کېږي. د دې دور په فلسفيانو کښې د تهيلز، اناکسامنډر، اناکسامنيز، پائيتاغورث، هيراکلائټس، ايمپي ډوکلز، اناکساغورث، سقراط، افلاطون، ارسطو، زينو، پلاطينوس او ځينو نورو نومونه د يادولو وړ دي. په دې بابله ډاکټر جميل اختر محبي په خپله مقاله "فلسفۀ وجوديت اور جديد اردو افسانه" کښې داسې ليکي:

*"فلسفہ قدیم کازمانہ چھٹی صدی عیسوی قبل مسیح سے لے کر تیسری صدی تک متعین کیا جاسکتا ہے۔ اس عہد کے فلسفیوں میں تھیلز، اناکسامنڈر، اناکسامنیز، پائی تھاغورث، ہیراکلائٹس، ایمپی ڈوکلز، اناکساغورث، سقراط، افلاطون، ارسطو، زینو، پلاطینوس وغیرہ کے نام نمایاں ہیں۔11*

د زړې فلسفې اغاز په اصل کښې د خارج د موجوداتو او د موجوداتو د جوهر د لټون او ادراک نه کېږي او ورو ورو د انسان اندرون ته سفر شروع کوي يعني د معروضيت نه د داخليت په لور تګ کوي. د انساني فطرت د تفهيم په لړ کښې د قديم دور فلسفيانو خپله رسائي د شعور او اخلاقو پورې محدوده کړې ده اګر چې تر څۀ حده نفسيات، سياسيات او شعريات وغېره ئې هم د بحث لاندې راوستلي دي خو اخلاقياتو او منطق ته ئې زياته توجه ورکړې ده. ولې چې د دېو علومو د انساني عقل او پوهې او د اعمالو او واقعاتو سره نېغ په نېغه تعلق دے. د دې دور په فلسفه کښې به بنيادي سوال دا راپورته کېدۀ چې خېر اولی څۀ څيز دے؟ انساني ژوند څۀ دے او مقصد او مرام ئې څۀ دے؟ په دغو سوالونو د غور او فکر نه پس ته به عام طورسره دوي ما بعد الطبيعاتي مسائل چېړل. د حقيقي وجود يعني د خدا ے د ذات په حقله سوالونه راپورته کول، د انسان د علت او معلول مسائل، د خالق او مخلوق تر مينځه د رشتې وضاحت د دغه دور د فلسفې اهم موضوعات وو.

لکه څنګه چې اګاهو ذکر وۀ شو چې د قديم دور فلسفيانو په اصل کښې د خپل فکر اغاز د خارج يعني د کائنات د مشاهدې نه وۀ کړو او دا ځکه چې د دوي په نزد په کائنات کښې يو توازن موجود دے چې د دغه توازن لۀ برکته ټول کائنات

ښکلې دے نو ځکه په دې بنیاد مونږ دا وئیلے شو چې د دوي د فکر دویمه زاویه ښکلا وه. که په ابتدا کښې د خارجي کائنات د مشاهده کولو په نتیجه کښې دوي د حسن معروضي نظریه پېش کړه خو وروستو د بني ادم د اندرون د مطالعه کولو نه پس ته دوي د حسن د موضوعیت هم قائله شو.

د دوي دیویانې، دیوتاګان، ارټ او ادب په اصل کښې د حسن او ښکلا هنداري دي. دغه یوناني حکما چې په عقل او شعور ئې کلک باور ساتلو. د دوي دا پوخ یقین وؤ چې دا کائنات د یو متعین او ټاکلي شوي نظام د سېوري لاندې حرکت پذیر دے چې اسرار او رموزو ته ئې د عقل نه بغېر رسائي ګرانه ده. دوي د منطق او استدلال د اهمیت او ارزښت نه هم انکار نۀ کوۀ او منطق او استدلال چې به کومو نتیجو ته رسول نو دوي به په روڼ تندي قبلولې. قدیم حکماؤ به د ریاست په اهمیت هم زور راوړۀ. ریاست د دوي په نزد یوه اجتماعي اداره وه چې وګړي ئې د هر قسمه قوانینو پابند وو. د ریاست د پرمختیا د پاره تګ و دؤ کول د دوي تر ټولو اهمه غوښتنه وه. دې لړ کښې که د افلاطون او ارسطو افکار او خیالات په غور مطالعه کړے شي نو د ریاست په اهمیت په کښې د ټولو نه زیات زور راوړے شوے دے. دغه وجه ده چې په دغه دور کښې د فرد د ذات او وجود سره تړلې مسئلې بېخي نظر انداز کړے شوې وې او د Individual (فرد) په مقابله کښې افرادو او اجتماع ته فوقیت ورکړے شوے وۀ.

## د مینځنۍ زمانې فلسفه:

د فلسفه قرونِ وسطیٰ دور د څلورمې پېړۍ نه راواخله د دیارلسمې پېړۍ عیسوي پورې ټاکلے کېږي. د دې دور په فلسفیانو کښې که یو طرفته د مسلمان حکماؤ ابو یوسف یعقوب بن اسحاق کندي، ابونصر فارابي، اخوان الصفاء، ابن سینا، امام غزالي، ابن طفېل، ابن ماجه، ابن رشد او څېنو نورو نومونه د یادولو وړ دي نو بل طرفته د مذکوره دور په فلسفیانو کښې د قبله ایزې خاورې سن تامس (سن تاموس) (ولیم اف اکم) ویلیم اکام وغېره نومونه هم په خصوصیت سره د ذکر وړ دي.

د دې دور د فکر و فلسفې مختلفې زاويې خپلو کښې سره داسې پېوست دي چې د يو بل نه جدا کول خو به ئې ګران شي. ولې بيا هم د ذکر شوي دور د فلسفې اهم فکري رجحانات دلته په ګوته کولے شي. دا دور د فلسفې د نورو دورونو په مقابله کښې زيات اهم په دې دے چې دې دور کښې مختلف مذهبي تحريکونه په وجود کښې راغلل. دې دور کښې چې څنګه عيسائيت د يو مذهبي تحريک په صورت کښې په وجود کښې راغلو نو څۀ موده پس د عربو د خاورې نه د اسلام رڼا هم خوره شوه. دغه وجه ده چې د مينځنۍ زمانې فلسفه د هر څۀ نه زياته د مذهب د اثر لاندې ښکاري.د مينځنۍ زمانې د فلسفيانو د سوچ او فکر بنيادي زاويه دا وه چې د خدائے وحدانيت، حقانيت او حاکميت به څنګه په ډاګه کړے شي. دې لړ کښې دوي د يوناني حکماؤ د خيالاتو او افکارو نه هم الهام اخستے وۀ. د دې دور بل خصوصيت دا دے چې د عقل او شعور ځائے ور کښې مذهب او کليسا نيولے دے. دلته هم وګړے (فرد) د مذهب په محدوده دائره کښې ساتلے شوے دے او د فرد ذاتي مسائل نظر انداز کړے شوي دي.

نوې يا جديده فلسفه:

د نوې يا جديدې فلسفې پېلامه د اوولسمې پېړۍ د مشهور فلسفي ډيکارټ د افکارو نه کېږي. ځکه خو دۀ ته د جديدې فلسفې بابا ادم وائي. (Rules for the direction of mind) د فلسفې په اړه ددۀ مشهورکتاب دے. دا هغه جديد فلسفي دے چې په وړومبي ځل ئې د قديم فلسفيانو خاص طور سره د افلاطون او ارسطو نظريات رد کړل او فلسفې ته ئې د يو نوي نقطه نظر په اساس وۀ کتل او په دې نتيجه وۀ رسېدلو" زۀ سوچ کوم چې زۀ يم" (I think, therefor I am) دۀ دا هم وۀ وې چې" بني ادمو له د خپل ځان په حقله سوچ او فکر کول او ځان پېژندل پکار دي" ۱۲

(Men must think and know for themselves) ځکه خو هېګل هم دهٔ ته د جدید فلسفي سرخېل وائي.

د دهٔ افکارو کښې که تر څهٔ حده د فردِ واحد د ذات د موجودګۍ خبره هم شوې ده ولې دے هم د انساني جوهر قائله دے. دهٔ فکر او سوچ د یواځې فرد د ذات جوهر ګرځولے دے یعني دهٔ هم جوهر په وجود مقدم ګڼلے دے. دغه وجه ده چې د دهٔ افکار هم تر ډېره حده د وجودیت سره ډغره وهي.

د نوې فلسفې د سرخېلانو په قطار کښې چې نور کوم فلسفیان ولاړ دي په هغوي کښې د اتلسمې پېړۍ د جرمني د خاورې مشهور فلسفي هېګل جارج ویلم فریډرک ،کیرکیګارډ ،فرېډرک نیتشے، جېسپرز کارل، هېډیګر مارټن، مارسل ګېبرئیل ، ژان پال سارترے او البرټ کامیو د ذکر وړ دي.

هېګل فلسفې ته د مختلفو زاویو نه کتلي دي.ددهٔ فلسفیانه افکار چې ډېر خوارهٔ وارهٔ او متنوع دي. ولې په اصل کښې ئې عقل او شعور د فکر زاویه ده. ددهٔ په خیال شعور مطلق حقیقت دے چې فطرت ئې په ظهور کښې راوستلے دے. دے وائي:

"Whatever Is Rational and What Ever is Rational is real" 13

یعني شعور حقیقت ته رسائي کولے شي او شعور په اصل کښې د حقیقت هنداره ده.

دا د جدید دور هغه فلسفي او مفکر وهٔ چې د یوې اوږدې مودې پورې ئې د فکر و فلسفې نه ګردې قبله ایزې خاورې استفاده وهٔ کړه. وروستو چې هم د عصري فلسفې څومره نوي مکتبونه مخې ته راغلل زیاتره د هېګل د فلسفې په ردِ عمل کښې په وجودکښې راغلل چې په کښې د بریډلے NEO-Hegelianism د برګسان نظریه روحیت (Vitalism) د هربرټ مورفریډرک حقیقت پسندي (Realism) د ولیم جیمز او شیلر عملیت پسندي (Pragmatism) د مورذشلک او کارنپ منطقي اثباتیت (Logical Positivism) د کارل مارکس اشتراکیت (Communism) د ذیوي تجربیت (Empiricism) د

روسو رومانویت (Romanticism) او او د کیرکیګارډ او سارترے وجودیت (Existentialism) وغېره په خصوصیت سره د یادولو وړ دي.

عصري فلسفه "وجودیت" د نولسمې پېړۍ د ډنمارک د خاورې د نامتو فلسفي کیرکیګارډ، سورین ابیے (Kierkegaard, Soren Aabye 1813-1855) د افکارو نه پېل کېږي. کیرکیګارډ په اصل کښې د هېګل د نظریاتو خاص طور سره د شعور مطلق او تعقل پسندۍ ډېر سخت مخالف وۀ. دے ابتداء کښې د سقراط د نظریاتو نه متاثره وۀ خو ډېر زر دۀ انساني وجود او د هغې سره تړلي مسائلو ته پام را وۀ ګرځولو او عرفانِ ذات ئې د خپل فکر او فلسفې محور وۀ ګرځولو. دغه وجه ده چې دے د عصري مکتبه فکر وجودیت سرخېل ګڼلے شي. دۀ په خپل کتاب (Concluding Unscientific Postscript) کښې ډېر په واضحه او ښکاره ټکیو کښې د انساني موجودګۍ خبره کړې ده. دے وائي (I am because I exist) یعني زۀ یم، ځکه موجود یم"14

دۀ چې په خپلو افکارو کښې د فردِ موجود کوم تصور وړاندې کړے دے د دغه تصور د تفهیم په لړکښې دے د فرد په حېث د بني ادم ژوند په درېو دورونو کښې وېشي. (۱) جمالیاتي دور (۲) اخلاقي دور (۳) مذهبي دور

په دې اړه قاضي جاوېد په خپل کتاب "وجودیت" کښې داسې لیکي:

*" کرکیگارڈ کے نزدیک یہ سوال پیدا ہوتا ہے کہ ایک فرد سے کیا مراد لی جائے؟ اپنے اس بنیادی مسئلے کو حل کرنے کی خاطر وہ اپنی نجی زندگی کی جانب رجوع کرتا ہے۔ اُس نے اپنی زندگی کو تین ادوار میں تقسیم کیا ہے (ا) جمالیاتی دور (۲) اخلاقی دور (۳) مذہبی دور۔15*

نیټشے، فرېډرک (Nietzsche, Fredrich)، (1844-1900) هغه وجودي فلسفي دے چې په خپل مشهور کتاب (A joyful wisdom, thus spoke Zarathustra) کښې ئې د خدائے د مرګ برملا اعلان کړے دے. د هر قسمه مذهبي اقدارو، اخلاقي ضابطو او قوانینو غندنه ئې کړې ده او فرد ئې د خپلو انفرادي ذمه واریو په خپله ذمه وار او خپل مقدر په خپله بدلولو والا ګرځولے دے. دۀ چې د Supper Man "بشپړ سړي" کوم

تصور وړاندې کړے دے. دا یو داسې فرد دے چې د خپل فردي قوت اندازه ورته کېږي او د خپلو انفرادي ذمه واریو پوره پوره احساس لري. ځکه دے غواړي چې داسې کامل او بشپړه انسانان دې مونږ پېدا کړو چې د خپل انفرادي قوت په زور خپله ټولنه مخ په وړاندې بوځي. دے هر قسمه اخلاقي قوانین او ضابطې، سماجي او مذهبي اقدار د فرد د ترقۍ په لاره کښې تر ټولو لوي خنډان ګڼي.

د جرمني د خاورې جېسپرز کارل (Jaspers, Karl 1883-1969) په فلسفه ګڼ شمېر کتابونه لیکلي دي. ددۀ په نزد فلسفه یو سائنس دے چې مقصد ئې په انسان او کائنات پوهېدل دي. د کارل فلسفیانه افکار که په غور وۀ لوستلے شي نو د وجود سره تړلي مسائل په کښې چېړلے شوي دي. دے په هره حواله د فرد د ازادۍ ملګرتیا کوي او افراد په انفرادي توګه ازاد، خپلواکه او بااعتماده لیدل غواړي. کارل وائي.

"هر وګړے په یوه خاصه لمحه کښې په یو خاص حالت کښې موجود دے او د څۀ خاص قسم تجرباتو او وارداتو سره مخامخ دے". 16

هیډېګر مارټن **1976-1889**هم د جرمني د خاورې نامتو فلسفي دے اګرچې په ظاهره دے ځان ته وجودي نۀ وائي خو دۀ چې دا کوم سوال راپورته کړے دے

"What is being, what is what?"17

ترجمه: هستي څۀ ده؟ او دا څۀ څۀ دے؟

دا په اصل کښې د هستۍ او وجود سره تړلے سوال دے. ددې سوال په جواب کښې دے وائي چې کله په خارجي کچ مونږ ته زمونږ د موجودګۍ ادراک نۀ کېږي نو مونږ ته په باطني سطح د خپلې موجودګۍ باره کښې سوچ کول پکار دي ځکه چې مونږ د موجود په واسطه د وجود تل ته وۀ رسو. دے هم لکه د نیټشے دهري وجودي دے او د خداے د مرګ تصور د دۀ په افکارو کښې هم ښکاره په نظر راځي البته لکه د نیټشے ئې دے حېراکُن امر نۀ ګڼي. ددۀ په نزد په باطني توګه انسان د تشویش او تردُد سره مخ دے او دغه تشویش د انساني داخلیت بنیاد دے. دے د معروضاتو او هستۍ خپلو کښې د تړون قائل دے. دے وائي چې د یو خاص زمان او مکان په

دائره کښې مونږ د خپلې هستۍ ادراک کوو او د ژوند مفهوم حاصلوو. ځکه خو دے وائي چې انسان ببخي د يو اځبوالي په حالت کښې نۀ دے بلکې په يو خاص زمان او مکان يعني دنيا کښې ژوند کوي. ددۀ په نزد ژوند د پرله پسې مبارزې نوم دے او انسان د انتخاب او چُنړ د تشويش قېدي دے.

مارسل ګېبرئيل **1889-1973** بنيادي طور سره د عيسائيت منونکے وۀ نو ځکه دے هم لکه د کيرکيګارډ مذهبي وجودي وۀ او لکه د نيټشے او هېډيګر د خدا ے د ذات نه منکر نۀ وۀ. دے د فرد او د معروض خپلو کښې د تړون ببخي قائله نۀ دے. دے وائي چې په کائنات کښې د فردِ واحد ګډون د دۀ د جسم ګډون دے نو ځکه جسم او فرد په اصل کښې د اکايۍ حېثيت لري. دے وائي چې فرد واحد ته کله د خپلې بې حېثيتي احساس وۀ شي او د خلاصي بله لار ورسره پاتې نۀ شي نو اخر د خپلې بقا په خاطر د الله په حضور کښې سر کېږدي او د عرفاني رشتي زۀ او تۀ د تصور په بنياد د وفادارۍ هغه مقام ته وۀ رسي چرته چې خدا ے او بنده يو کېږي.

د فرانس د خاورې نامتوفلسفي جين پال سارترے **1905-1980** چې د جديد وجوديت سرخېل ګڼلے شي.سارترے چې د وجود موضوع څومره په ښۀ شان سره چېړلې ده او د وجود څومره باريکې نکتې ئې راسپړدلې دي نو ددۀ نه وړاندې شايد چې چا رابرڅېره کړې وي. سارترے په فرانسيسۍ او انګرېزۍ ژبو کښې د وجوديت په فلسفه ګڼ شمېر کتابونه ليکلي دي.

> "انسان په وړومبي سرکښې هېڅ نۀ دے. حتی نۀ ماهيت لري او نۀ کېفيت. د انسان څنې يواځې هغه وخت يو شے جوړېږي چې وجودي پېداوښت او ارزښتيا پېل کړي او د ماهيت او کېفيت خاوند شي" 18

د سارترے په نزد انسان يو داسې ذي شعور هستي ده چې ددۀ وجود په جوهر مقدم دے. يعني د تخليق کېدو په وخت لکه د نورو غېر ذي شعور هستيو په دۀ کښې څۀ خاص جوهر نۀ دے اچولے شوے. دا اوس په دۀ منحصره ده چې دے لۀ ځانه

ځۀ جوړول غواړي. په دې حقله سارترے په خپل کتاب "وجوديت او انسان دوستي" کښې داسې ليکي:

"انسان هغه څۀ دے چې دے ئې لۀ خپله ځانه جوړول غواړي.
دا د وجوديت وړومبے اصول دے" 19

وړاندې ليکي چې:

"که دا رښتيا وي چې وجود په جوهر مقدم دے نو بيا انسان چې څۀ هم دے، د هغې ذمه وار هم په خپله دے. نو د وجوديت وړومبے اثر هم دا دے چې دا انسان لره لکه څنګه چې هغۀ دے، په خپل ځان قدرت ورکوي او د هغۀ د وجود ټوله ذمه واري د هغۀ په سر اچوي او کله چې مونږ دا وايو چې انسان د خپل ځان په خپله ذمه وار دے نو زمونږ منشا دا نۀ وي چې هغۀ يواځې د خپل ځان ذمه وار دے بلکې د دې نه مراد دا دے چې هغۀ د ټول انسانيت ذمه وار دے" 20

البرټ کاميو د روم د خاورې هغه وجودي دے چې فرد پرستي ،بې معنويت، لايعنيت، لغويت، عقل دشمني د دۀ د فکر بنيادي زاويې دي. د دۀ په نزد کائنات ټول بې معنې دے او انسان دې بې معنې کائنات ته بغېر له څۀ جوازه راغورځولے شوے دے چې دلته ژوند او مرګ يو بې مقصده او فضول کار دے. نو ځکه د انسان د خلاصي يواځېنۍ لار خودکشي ده.

کاميو په اصل کښې د وړومبي نړيوال جنګ په اوائلو کښې پېدا شوے وۀ. د دغه جنګ تباهۍ او بربادۍ ددۀ په ذهن ډېر بد اثر پرې باسلے وۀ. بيا د ايتوپيا جنګ او د اُندلس او ميونخ خانه جنګي هم دۀ په خپلو سترګو ليدلې وه. په دويم نړيوال جنګ کښې د الجيريا د اولس ماتې او د هټلر د الجيريا په ښارونو قبضه او زور ظلم، زياتي د کاميو زړۀ د ژوند نه موړ کړو.په 1946ء کښې په کولمبيا پوهنتون نيويارک کښې د خپلې يوې وېنا په وخت کاميو د خپل دور انځور ګري داسې کوي.

"زهٔ د وړومبي نړیوال جنګ په اوائل کښې پېدا شوم. د ځوانۍ په دور کښې د 1929ء بې چېني او د شلو کالو په عمر کښې د هټلر د ظلم، زیاتي نه تېر شوم. بیا د ایتوپیا جنګ او د اُندلس او میونخ خانه جنګۍ په خپله ولقه کښې واخستم. د دې نه وروستو دویم نړیوال جنګ او د دغه جنګ د ماتې نه پس هټلر زمونږ ښارونو او کورونو ته داخل شو. په داسې دنیا کښې چې مونږ ژوند کوو نو په چا باور وهٔ کړو؟ د انکار ما سېوا یا د انکارِ ذات نه. هر څیز زمونږ د پاره د زغم نه بهر وهٔ، خو بیا هم مونږ مزاحمت وهٔ کړو" 21

## د وجودیت د یو فلسفیانه طرزِ فکر په حېث د خورېدو وجوهات

هسې خو د انساني وجود سره تړلي مسائل د هر دور د بني ادم مسائل پاتې شوي دي او د خپلې ذاتي تجربې او مشاهدې په بنیاد ئې په دغو مسائلو د پوهېدلو کوشش کړے دے خو کله چې په نړۍ کښې د وړومبي نړیوال جنګ او دویم نړیوال جنګ په شکل کښې کوم دوه لوے لوے جنګونه وهٔ شول. د دغو دوو نړیوالو جنګونو په نتیجه کښې خاص طور سره قبله ایزه خاوره او بالعموم ټوله نړۍ چې څومره وهٔ ځپلې شوه، په نړۍ کښې چې څومره تباهي او بربادي خوره شوه . بې کچه انسانیت قتل شو، ګولۍ وهٔ وربدې، ملکونه وران ویجاړ شول، مظلوم قامونه د زورَورو په ولقه کښې راغلل. ټوله نړۍ او خاص طور سره مغربي ملکونه په اقتصادي او معاشي حواله ډېر وهٔ ځپلے شول. خلق د غربت سره مخ شول، بې روزګاري عامه شوه. د خوراک څښاک د څیزونو قلت راغلو. اجتماعي ژوند متاثره شو، هر څوک د افراتفري ښکار شو. بې چېني خوره شوه نو ځکه په دغه دور کښې بني ادم خپل ذات ته راټول شو او د اجتماعي مسئلو په ځاے د خپل وجود سره په تړلو مسئلو کښې ئې دلچسپي پېدا شوه. د وجودیت د یو باقاعده طرزِ فکر په حېث د خورېدلو وجوهات هم په اصل کښې دغه دوه نړیوال جنګونه وو .

## وجوديت د سائنس او ماديت په تناظر کښې

د اتلسمې پېړۍ په نيمائي کښې که يورپ د صنعت په مېدان کښې ډېر لوے پرمختګ وۀ کړو او ډېرې لويې لويې کارخانې په کښې جوړې شوې نو د نولسمې پېړۍ په اوائل کښې ئې د سائنس په مېدان کښې هم ډېره لويه ترقي وۀ کړه. ډېر لوے لوے ايجادات په کښې وۀ شول.دې صنعتي انقلاب او مادي ترقۍ که يو پله په انساني ژوند کښې ډېرې اسانتياګانې پېدا کړې او انسان ئې د ژوند د ډېرو نعمتونو نه بهره مند کړو نو بل پله انسان د انساني جذباتو نه عاري شو. په انسان کښې بې کچه خود غرضي پېدا شوه او لکه د مشين کار ته وۀ نښتلو. خپل حقيقي اوصاف ئې وۀ بائيلل. روپۍ، پېسې ئې ډېرې وۀ ګټلې، په ژوند کښې ئې ډېر اسائشونه هم پېدا شول. ولې د دغې بې کچه خود غرضۍ لۀ کبله ئې زړۀ او روح ته تسکين نۀ وۀ او د بې حده اضطراب او بې چېنۍ سره مخ شو. مايوسي، کرب، بوريت او داسې نورې ذهني ناروغۍ په خلقو کښې عامې شوې. سائنس بې شکه د خلقو امروزه ژوندکښې ډېر سهولتونه پېدا کړل ولې د روح د تسکين سامان ورسره نۀ وۀ. هر سړے د تنهايۍ او يواځېوالي ښکار شو او خپل ذات ته را ټول شو. د مشين د دغو بدو اثراتو پېشِ نظر ارک فارم په دې وېنا مجبوره شو چې.

"په نولسمه پېړۍ کښې که د خدا ے د مرګ اوازه وۀ شوه نو په
شلمه پېړۍ کښې د انسان مرګ هم يقيني شو" 22

مشين چې د ځان سره کوم نقصانات راوړل په راتلونکيو وختونو کښې هم د هغې ازاله ګرانه شوه.

انسان د مشين د غلامۍ په زنځيرونو کښې راګېر شو.که په نولسمه پېړۍ کښې ئې د خدا ے سره د قربت رشته ختمه کړه نو په شلمه پېړۍ کښې لۀ ځانه هم پردے شو. هغه انسان چې جذبات او احساسات ئې لرل. د مادي ضرورتونو سره سره ئې روحاني غوښتنې هم لرلې. هغۀ اوس لکه د مشين په مسلسل کار، روزګار کښې اخته شو او قلبي او روحاني غوښتنې ئې نظر انداز کړے شوې. نو ځکه انسان ډېر

زيات بې قراره شو. که ځان ترې ورک شوے وۀ خو خپل ورک ځان ئې راپېدا کړو او د خپل وجود د مسائلو ئې د پوره پوره شعور حاصلولو هڅې وۀ کړې. ځکه خو د مشيني دور د راتګ نه پس چې انسان ته د خپل ذات په حقله کوم شعور حاصل شوشايد چې په بل کوم دور کښې ورته دومره شعور حاصل شوے وي.

## د وجوديت مذهبي او اخلاقي پس منظر

د صنعتي انقلاب او مادي ترقۍ نه پس د قبله ايزې خاورې قامونه د مذهب او عقيدې د زوال سره مخ شول. په خلقو کښې د تعقل پسندۍ رجحان عام شو. د مذهب او عقيدې ځاے تعقل پسندۍ وۀ نيولو. د مذهبي پېشوايانو د بې عملۍ، منفي رويو، منافقت او دوه رنګۍ لۀ کبله خلق د مذهب نه بېزاره شول. ولې چې د مذهب اصلي روح مجروحه شو. د انسانيت د خېر او بقا د پاره چې به مذهب کوم کردار تر سره کولو. اوس مذهب هغه کردار نۀ ترسره کولو. مذهب د چند رسوماتو پورې محدود پاتې شو. په ظاهره خو ګرجې او عبادت خانې ابادې وې او د پادريانو دبدبه او جاه و جلال په کښې بحال وو. عبادات او رسومات په کښې هم تر سره کولے شو خو په عملي توګه په مغربي ټولنه کښې د مذهب اثر ورو ورو په کمېدو شو او خلق د مذهب نه متنفره شول. د چند عباداتو او رسوماتو نه پرته د مذهب څۀ حېثيت پاتې نۀ شو. اوس مذهب د انسانيت هغه شان لار ښووَنه نۀ شوه کولے کومه چې به ئې مخکښې کوله نو ځکه په ټول يورپ کښې ډېر برملا د مذهب مخالفت وۀ کړے شو بلکې الماني، فلسفي نيټشے په کښې د خداے د مرګ اعلان هم وۀ کړو. ډاکټر جميل اختر محبي د مذهب نه د متنفره کېدو په حقله د نيټشے خيالات داسې وړاندې کوي.

"غالباً اسی صورتحال نے نطشے کو یہ اعلان کرنے پر مجبور کیا کہ خدا مر چکا ہے۔ اس لیے کہ وہ خدا جو ظالم و جابر اور فاسق و فاجر کو سزا نہیں دے سکتا اور جو پادریوں اور مذہبی اجارہ داروں کے ہاتھوں میں محض ایک

کھلونا بن کر رہ گیا ہو وہ خدا کیسے زندہ ہو سکتا ہے۔ یا پھر وہ خدا جو مظلوموں کی مدد نہیں کر سکتا مصیبت زدہ کی آہ و بکا نہیں سن سکتا۔ مجروح روحوں پر مرہم پاشی نہیں کر سکتا۔ بے کسوں اور مجبوروں کی داد رسی نہیں دے سکتا۔ زندہ کیسے ہو سکتا ہے"23

د نیټشے په باغیانه خیالاتو کښې خو بیا هم د خدا ے د وجود څۀ نه څۀ اړخ په نظر راځي ولې جدید وجودي فلسفیانو خو د خدا ے د ذات نه مطلق انکار کړے دے. د مثال په طور ژان پال سارترے چې د خدا ے د ذات نه سکوټ انکاري دے. لکه چې وائي:

"God does not exist, man simply is … man is nothing else that which he makes of himself" 24

قبله ایزه خاوره کښې د مذهب په ضد دغه باغیانه رویه نۀ یواځې انتهي لېکچول او دانشورې طبقې خپله کړه بلکې عام خلق هم د مذهب نه باغیان شول. ټوله مغربي خاوره د مذهبي انحطاط او زوال سره مخ شوه. اخلاقي اقدار هم بې معنې شو ولې چې د خدا ے د وجود تصور لۀ مینځه لاړۀ نو د هغۀ لۀ لوري مقرر شوي قوانینو او اخلاقي پېمانو بیا څۀ معنی لرله نو ځکه ټوله مغربي ټولنه د اخلاقي پستۍ سره مخامخ شوه. مغربي قومونو بې شکه چې د مذهب نه سرکشي اختیار کړه او اخلاقي اقدار ئې د پښو د لاندې کړل خو دغه مذهبي سرکشۍ د هغوي نه د ژوند لاره هم خطا کړه ولې چې د اسمان نه رالېږلي شوي قوانین او ټولې اخلاقي ضابطې هغوي رد کړې. ځکه خلق د بې کچه بې چېنۍ او اضطراب سره مخ شول او د ژوند رۀ ګودر ترې خطا شو. د انسان سره په ظاهره د ژوند تېرولو هېڅ لاره پاتې نۀ شوه او که څۀ لاره وه نو هغه د هغۀ داخلي بصیرت وۀ نو ځکه انسان د خپل ذاتي شعور او داخلي بصیرت په بنیاد خپل حیاتیاتي قدرونه ځان له په خپله متعین کول شروع کړل. دغه وجه وه چې د یو باقاعده فکر په حېث د وجودیت فلسفې په دې دور کښې په ټول یورپ کښې خپل اثر خور کړو.

# حوالې

۱. کھوکھر، وصی اللہ، جہانگیر اردو لغت، لاہور، غزنی سٹریٹ، ن م، ص1533

1. Khokhar, Wasi ul-Allah, Jahangir Urdu Dictionary, Lahore, Ghazni street,unknown,P1533

۲.قلندرمومند،فريدصحرائي(مؤلفين)،درياب پښتولغت،پېښور،خيبر پښتونخوا ټېکسټ بُک بورډ، 1994ء، مخ 1275

2.Qalandar momand,farid sehrayi,muallifeen,dryab Pashto lughat,Peshawar,Khyber pakhtoon khwa taxt book board,1994.p1275

۳.جميل اختر محبي،ډاکټر،فلسفۀ وجوديت اور جديد اردوافسانه،دهلي،ايجوکيشنل پبلشنگ هاؤس، 2002ء (اشاعت اول)، ص 18

3. Jamil Akhtar muhibi.doctor,falsfa e wajodiyat awr jaded urdu afsana,dehli,educational publishing house,2oo3,(ishaat e awal) p 18

۴.هم دغه

4. As Above

5. https://en-m-wikipedia-org-Existentialism-wikipedia

6. Collins concise Encyclopedia P-198

7. Jean paul Sartre, Existentialism is a Humanism P-1

8. سی اے قادر، وجودیت، مشمولہ (ادب فلسفہ اور وجودیت) لاہور، حاجی منیر پرنٹرز، 2017ء، ص559

8. C.A Qadir,wajoodiyat,mashmoola,(adab falsafsa awr wajoodiyat) lahore,Haji Munir printers,2017,p559

9.انور سدید، ڈاکٹر، اردو ادب کی تحریکیں، گلشن اقبال کراچی، انجمن ترقی اردو پاکستان، 2015ء (اشاعت نہم)، ص 92 تا 93

9. Anwar sadeed,doctor,urdu adab ki adab tehreeken,Gulshan Iqbal karachi.anjuman traqqi urdu Pakistan,2015,ishaat e naham.page 92 to 93

10. روهي،محمد صديق،ادبي څېړنې،دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۷، مخ۵۱

10. Rohi,Muhammad sadeeq,adabi serrani,Danish khparan dowya tolana,2007,p51

11.فلسفۀ وجوديت اور جديد اردو افسانه، محوله بالا، مخ33

11. Falsafa e wajoodiyat awr jadid urdu afsana,p 33

12. شاہین مفتی، ڈاکٹر، جدید اردو نظم میں وجودیت، لاہور، سنگ میل پبلی کیشنز، 2001ء، ص19

12. Shaheen mufti,doctor,jadid urdu nazam mein wajoodiyat,Lahore,sang e mail

publications,2001,p19
13. Frankthilly, A History of Philosophy P-478
14.جدید اردو نظم میں وجودیت، محولہ بالا، ص21
14. Jadid urdu nazam mein wajoodiyat,p21
15. قاضی جاوید، وجودیت، لاہور، فکشن ہاؤس، 2018ء، ص22
15. Qazi javed,wajoodiyat,Lahore,fiction house,2018,p22
16.جدید اردو نظم میں وجودیت، محولہ بالا، ص۲۵
16. Jadid urdu nazam mein wajoodiyat,p25
17. Six, Existentialist thinker P-87 3
18.ادبي ځېړنې، محوله بالا، مخ ۵۴
18. Adabi serrani,p54
19.توقير ابشار (مترجم) وجوديت او انسان دوستي، ژان پال سارتر، العېن امارت، ليکوال پښتو ادبي تنظيم، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۷
19.Tauqeer Abshar,(mutarajim) wajoodiyat aw insan doosti,jean Paul Sartre,Al ain imaraat,likwal pukhto adabi tanzeem,2016,p17
۲۰.هم د دغه کتاب شاپانه
20. As Above
۲۱.Albert Camus, The Rebel, Fenguin Modern- Classics, England, 1953 P-72
۲۲. فلسفہ وجودیت اور جدید اردو افسانہ، محولہ بالا، ص27
22. Falsafa e wajoodiyat awr jadid urdu afsana,p27
۲۳.ایضاً، ص29
23. As Above
۲۴.ایضاً
24. As Above